# Pashto Consonants: An introduction

# پښتو بې واک یا اصلي غږونه: یو تعارف

**Faqir Muhammad** ⋆

## Abstract:

Phonemes are divided in two types' vowel and consonants. Consonants are the basic sounds but they have not any stress and activity without the help of vowels. Consonants are those sounds in producing, the air flow are stop through articulators in mouth. They articulated with complete or partial closer. These sound touch or close the articulators.

We can identify the consonants by three patterns one is voicing second manner of articulation and third is place of articulation. Voicing tells us that articulated sound voice or un voice. The vibration during sound result voice otherwise will un voice.

Manner of articulation describes the type and method in which difficulty caused by narrowing or closure of articulators. Some manners are stops, affricates, trill, flap, nasal, laterals and fricative.

The places of articulation are bilabial, dental, alveolar, velar and glottal. In this paper I discussed briefly about these types with examples.

**Key words**: Consonants, Voicing, Manners and Points of articulation.

پښتو کښې د بې واک د پاره مختلف نومونه موجود دي، لکه بې واک، اصلي غږونه اردو کښې ورته مصمتے عربۍ کښې حروف صحیحه او انګرېزۍ کښې (Consonants) وئیلے شي۔

د انګرېزۍ کنسوننټ د یوناني ژبې د لفظ (Consonautem) نه وتلے دے چې معنا یې د یو غږ د بل غږ په مدد پېدا کېدل دي۔ بې واک هغه غږونه دي چې د دې د ادائیګۍ په وخت کښې د پړپوس د لوري راتلونکې هوا ته لاره نیولے شي یا په لاره کښې څۀ نه څۀ لږ یا ډېر بندېز سره مخامخ کیږي۔

د فونیم دوه قسمونه خپلواک (Vowels)او بې واک (Consonants) دي۔ خپلواک غږونه هغه دي چې د ادا کولو په وخت کښې هوا ته هېڅ قسمه بندېز نۀ وي او دا چې بې واک له معنا او حرکت هم ورکوي۔ اصلي غږونه د کومکي غږونو له مرستې نه بغېر له خولې نۀ راوځي۔۱

د بې واک په تلفظ کښې د هوا په لاره کښې بندېز پېدا کیږي او د خپلواک د مدد نه بغېر نۀ شي ادا کېدلے۔

---

⋆ Lecturer Bacha Khan Study Centre Bacha Khan University Charsada

"کانسوننټ هغه اواز ته وائي چې د هغهٔ د ادا کولو په وخت کښې د صوتي غړو د تماس له امله د هوا په جریان کښې، چې د هغهٔ د ادا کولو په وخت کښې د خولې یا پزې یا د دغو دواړو لارو څخه راوځي، انسداد، احتکاک، یا کوم بل ډول بندش پېښ شي لکه د (ب) یا (پ) د ادا کولو په وخت کښې چې د دوؤ شونډو د تماس له امله د هوا په جریان کښې بندش واقعه کیږي یا لکه د ـ(چ) یا (ج) د ادا کولو په وخت کښې چې د ژبې او اورۍ تماس د هوا جریان کښې بندش پیدا کوي.(۲)

دا قسم بندېز د خلق د کومې او ستونې نه واخله تر شونډو او پوزې پورې په کوم مقام هم کېدلے شي دا بندېز زیات او کم هم کېدلے شي، د هوا لاره کۀ لږه یا ډېره ونیولے شي نو دا بې واک ګڼلے شي.(۳)

د اواز په پېدائش کښې د ساه د هوا د اهمیت نه انکار نۀ شي کېدے کله چې دغه هوا د پړپوس نه راوځي نو په لاره کښې د مختلفو مرحلو نه تېرېږي. دغه راتلونکې هوا چې کله د غړېزو تارونو چې صوتي لب (Vocal Card) هم ورته وائي. دا یو بل ته نزدې کیږي او د هوا د تنګ لاره کښې بندېز پېدا کوي. په دې دوران کښې دغه تارونه رپیږي چې د اواز پېدا کولو سبب ګرځي.

**خلیل صدیقي لیکي:**

*"اسی طرح بولتے وخت جو هوا پهیپهڑوں سے نکل کر نرخرے سے گزرتی هے، اس کو مختلف اعضاے دهن کی حرکات وسکنات کی مدد سے روک دیا جاتا هے یا اس کے بهاؤ کے زور میں کمی بیشی پیدا کی جاتی هے۔ اسی گزرگاه کو بند کیا جاتا هے یا تنگ، نیم کشاه یا کشاده تو وه اوازیں پیدا هوتی هیں، جنهیں تکلمی اواز یا اصوات کها جاتا هے۔"۴*

مطلب دا چې د غږ دوران کښې هوا ته ځاے په ځاے د مختلفو اندامونو په وسیله بندېز پېدا کیږي، په ژبه کښې بې واک یا اصلي غږونو ته هغه مقام حاصل دے کوم چې په بدن کښې هډوکي لري، څنګه چې هډوکي د بدن جوړولو او شکل ورکولو کښې کردار لوبوي او مضبوطیا ورکوي دغه شان بې واک یا اصلي غږونو د ژبې بنیادي جوړښت کښې حصه اخلي. که مونږ غور وکړو نو هډوکي تر هغه بې حرکته یا ساکن وي چې تر څو خوزولې شوي نه وي یا حرکت ورنه کړے شي. بس هم دغه شان اصلي غږونه هم بې حرکته وي تر څو چې د خپلواک یا کومکي غږونو په وسیله حرکت ونۀ مومي.(۵)

بې واک یا اصلي غږونه د ژبې بنیادي او اساسي غږونه دي چې انسان په کښې خپل جذبات او احساسات بل ته رسوي، خو دا اصلي غږونه د خپلواک یا کومکي غږونو نه بغېر خپل کردار نۀ شي ادا کولے. نۀ تلفظ کېدلے شي او نۀ معنا ورکولے شي. دا دواړه د غږ د ادائیګۍ د پاره لازم او ملزوم دي، ځکه چې غږ د حرکت نه بغېر ساکن او بې معنې وي کله چې د خپلواک په مدد حرکت ورکړې شي نو بیا تلفظ کېدلے شي. بې واک یا اصلي غږ کۀ هر څو اساسي حېثیت لري او د ذات او بنیاد په حواله خپل وجود لري خو د خپلواک حرکت ته هم احتیاج لري او بې واک له معنا او جوړښت هم ورکوي.(۶)

مجاور احمد زیار د پښتو بې واک غږونو شمېره نهٔ ویشت ۲۹ ښودلې ده(۷) صدیق الله رښتین یې پښتو ګرامر کښې شپږ یادوي. محمد ګل مومند، د پښتو ژبې ټول توري دېرش ښودلي دي چې په هغې ځلور خپلواک او نور بې واک دي.(۸)

د پښتو ژبې بې واک یا اصلي غږونه په علامتي یا حرفي صورت کښې دا دي:

ب، پ، ت، ټ، ج، ځ، چ، څ، خ، د، ډ، ر، ړ، ز، ژ، ږ، س، ش، ښ، غ، ک، ګ، ل، م، ن، ڼ، ه

په پښتو غږونو کښې دوه غږونه نیمواک (Semi Vowel) دي چې کله د خپلواک او کله د بې واک په بڼه څرګندېږي دغه (و) او (ی) دي.

لس غږونه د عربۍ نه مستعار دي چې پښتانهٔ یې په سمه توګه نهٔ شي ادا کولے او د دې د پاره متبادل غږونه استعمالوي. او ځلور خپلواک (Vowel) دي چې دغه نیمواک، خپلواک او مستعار غږونه د بې واک نه جدا دي.

د بې واک یا اصلي غږونو د اظهار او وضاحت د پاره درې طریقې استعمالیدے شي اول دا چې غږ اواز لرونکے (Voiced) یا بې اواز (unvoiced) دے دویم د غږونو د ادائیګۍ یا مخرج (Place of Articulation) او دریم د ادائیګۍ د طریقو (Manner of Articulation) په ذریعه ښکاره کولے شي.

## غږن یا اواز لرونکي (Voice)

دې ته مصیت، مسموع او مجهوره هم وئیلے شي، دا هغه غږونه دي چې د دې په ادائیګۍ کښې د تېزۍ او سرعت احساس کیږي او صوتي عنصر هم پکښې په ښکاره توګه معلومیږي، کله چې غږ د صوتي تارونو (Vowel Card) د رپېدلو په وجه پېدا شي نو دې ته غږن یا اواز لرونکے وئیلے شي. د هوا د تګ په وخت کښې کهٔ دغه غړیز مزي یو بل ته نزدې شي نو د رسېدلو سره غږ هم پېدا کیږي.

ګیان چند لیکي:

"صوتی تاروں کے نزدیک آنے پر ارتعاش سے جو اواز پیدا ھوتی ھے۔اسکا اصطلاحی نام (voice) ھے۔صوتی تاروں کے دور معمولی حالت میں رھنے پر جو اواز پیدا ھوتی ھے انھیں (Voice less) کھا جاتا ھے۔"(۹)

د غږن مثالونه دا دي: ب،م، ذ، ز، د، ډ، ځ، ج، ر، ړ، ږ، ع، غ، ق، ګ وغېره.

د څۀ غږونو د ادائیګۍ په وخت غږ تارونه د یو بل نه لرې وي نو دا سې حالت کښې چې کوم غږ پېدا کیږي بې غږه یا بې صدا (unvoiced) ګڼلې شي.

"هغه هوا چې د پړپوس څخه بهر ووځي کله چې په خنجره کښې او دریږي نو مصیتي غږونه تري ووځي ........... دغسې هوا په خنجره کښې راګرځول کله چې کلامي صوت پیدا کړے شي نو هغه ته مصیتي وائي او په خولهٔ کښې هوا په یو مقام ځنډول غیر مصیتي اصوات پیدا کیږي"(۱۰)
په غږونو کښې چې صوتي تارونه (صوتي لب) نه رپیږي او د غږ پیداوښت کښې حصه اخلي بې غږه یا غیر مصیت (unvoiced) ګڼلے شي. د بې غږه اوازونو مثالونه دا دي :
پ، ف،ث، ت، ټ، څ، چ، ح، خ، ش، ښ، ک، ه،وغیره دي.

## د غږونو مخرجونه یا د ادائیګۍ مقام (Place of Articulation)

د بې واک غږونو معلومولو درې طریقې دي، په هغې کښې یوه د غږونو د ادائیګۍ مقام یا مخرج معلومول دي، په دې کښې دا ښودلے شي چې غږ د کوم اندام نه ادا کیږي، د غږ ادا کولو کښې د پړپوس نه تر د غړیزو تارونو ستوني مرۍ ژبې، تالو ، ژبه غاښونه، اورۍ او شونډې حصه اخلي. د غږونو د ځان ځان له مخرج یا وتونځاے وي، د دې صحیح ادائیګي او پیژندنه بې حده ضروري ده، د دې ځایونو تشریح او توضیح او پیژندګلو په دې کښې کیږي.

د غږ پوهنې کار هم دا دے چې د غږ د نوعیت، توپیر او هغه مقام چې له کوم غږ پیدا کیږي تشریح شي، دا د غږ (Phone) تفصیلي او تشریحي مطالعه کوي، هسې خو په اواز کښې د هوا ، اوبو ، مرغو او ځناورو اوزاونه هم شامل وي خو غږ پوهنه کښې صرف هغه غږونه په نظر کښې ساتلے شي کوم چې د انسان له خولې راوځي او د مفهوم د ادائیګۍ د پاره ضروري دي.(۱۱)
د غږ ادائیګۍ کښې د صوتي اندامونو نه علاوه د هوا د کمي، زیاتي، حرکت، آزادۍ او بندېز هم ډېر اهمیت وي. کله چې هوا د پړپوس نه د مرۍ په لار حرکت کوي نو څومره چې د صوتي تارونو لاره تنګه وي او څومره پکښې رپېدل یا ارتعاش زیات پیدا شي هغه هومره اواز هم تېز وي. په عامه توګه د صوتي تارونو او حرکت یا چکز د ښځو او سړو تر منځه جدا جدا وي، د سړو د صوتي تارونو په یو سکنډ کښې د ارتعاش یا چکر تعداد ۱۰۹ نه تر ۱۰۳ پورې وي او د ښځو د ۲۱۸ نه ۳۲۲ پورې وي
.

د مخرج معنا د وتلو ځاے دے خو په اصطلاح کښې چې کوم ځاے نه حرف ادا کولے شي هغې ته مخرج وائي. د صحیح تول مطابق وولس مخرجونه دي.(۱۲)
د مخرجونو په شمېره کښې د عربي پوهانو اختلاف دے، فراء څوارلس، سیبویه، شپاړس او خلیل بن احمد دولس یاد کړي دي، چې په ترتیب داسې دي.

1. مخرج د خولې خانه، د دې نه الف، واؤ او ی ادا کیږي.

2. د خلق کومي حصه،کومه چې د سیني یا پړپوس اړخ ته وي او د مری، اخري حصه وي، د دې نه هـ، ء ادا کیږي۔
3. د مری، مینځنۍ حصه، وسط خلق یعني ستوني نه ع او ح ادا کیږ ي۔

لساني مخرجونه: په ژبنیز مخرجونو کښې دا شامل دي:

4. ژبی، لهات (Uvula) سره چې د ژبې اخري حصه ولګي نو د ق
5. د ژبې وېخ چې نرم تالو سره اولګي نو د ک او ګ غږ پېدا شي ۔
6. د ژبې مینځ چې مقابل بره تالو سره اوجنګیږي نو درې غږونه ج، ش، ی پېدا کیږي دې ته حروف شجریه وائي۔(۱۳)
7. د ژبې د اړخونو او د بره ژامې د غاښونو د وېخ نه ض ادا کیږي، دې ته حافیه، طرفیه هم وئیلے شي۔
8. ل د ژبې د غاړې نه څوکې پورې حصې او بره غاښونو د اورو نه ادا کیږي۔
9. د (ن)مخرج د(ل) سره نزدې د ژبې د سر خوا ته ادا کیږي۔
10. د ژبې اړخ تر څوکې پورې او د ژبې د مینځ څۀ حصه چې اورو سره اولګي نو د "ر" غږ پېدا کیږي، "ړ" د "ل" او "ر" تر مېنځه ادا کیږي۔ل، ن، ر ته طرفیه، اړخیز (Lateral) وائي۔ځ چې اکثر خل یې تلفظ د "ز" په شان کوي، ژبه پرې غاښونه سره لګي۔(۱۴)
11. د ژبې سر چې مخامخ دوۀ غاښونو ویخونو سره اوجنګیږي نو د "ړ، ط، ت" غږ پېدا کوي، دغسې د پښتو "ڇ" هم د" ت "مخرج ته نزدې دے، خو اورو سره لګي۔(۱۵)
12. د ژبې سر د بره دوه غاښونو د سرونو نه د ظ، ذ، ث غږ پېدا کېږي، "ز" او "څ" هم دغه مخرجونه ته نزدې ادا کیږي۔
13. س، ص، ز، د ژبې د سر او مخامخ دوه لاندینو غاښونو د سرونو نه پېدا کیږي، دې ته صفیریه یعني د شپیلي اوازونه هم وائي۔

شونډیز یا شفوي مخرجونه : (Bilabial)

14. ف د ژبې دننه حصې او بره دوه غاښونو سرونو نه پېدا کیږي۔
15. د شونو نه درې قسمه غږونه ووځي لکه پ، ب، م، و خو ب د ژبې د شونډو د لمدې حصې نه په سختۍ سره او "م" د او چې حصې نه په نرمۍ سره پېدا کیږي او "و" کښې شونډې یو بل نه لرې لرې وي او ګول شکل اختیاروي۔
16. ن، ڼ او م د پوزې په لاره ادا کیږي او پوزیز یا انفي ورته وئیلے شي۔

| | | |
|---|---|---|
| ژبيز | بره او لاندې شونډې | ب، پ، م، و |
| غاښيز | د ژبې څوکه او غاښونه | س، ص، ض |
| تالويز | د ژبې منځ او سخت تالو | ج، چ، |
| نرم تالو | د ژبې ويخ يا شا اړخ او نرم تالو | ک، گ |
| اوريز | اورې، د غاښونو ويخ او د ژبې څوکه او سر | د ، ت |
| معکوس يا ژب اوړين | ژبه بره ځي او دننه اړخ ته اورې | ډ، ټ، ړ، ښ، ل |

### د غږ د ادائيگۍ طريقې (Manner of Articulation) :

غږونه په مختلفو طريقو ادا کولې شي چې په هغو کښې بند شي (Stops) پوزيز (Nasal) احتکاکي يا مښلي (Fricatives) رپندي يا ارتعاشي (Trill) معکوسي، اړخيز يا طرفيه (Lateral) وغيره دي۔

### بندشي، تم (Stops or Plosive)

دې قسم ته انسدادي او انفجاري هم وائي۔ کله چې غږ د خولې او پوزې دواړو لارو بند کړې شي او هوا د څۀ وخت د پاره ايساره کړے شي او بيا پرانستلې يا پرېښودلې شي نو دې حالت کښې چې کوم غږ پېدا کيږي دې ته بندشي يا تم (Stops) وئيلے شي۔
د دواړو شونډو په بندېدلو يا د ژبې د څوکې او د بره غاښونو د يو بل سره په يو ځاے کېدلو يا په تالو کښې د بندېز په وجه بندشي غږونه پېدا کيږي۔ (١٢)

"A plosive or stop consonant is one that is produced with a stricture. The articulations ore in firm contact for some time(١٧.)

بندشي غږ کښې مخرج يا وتونځاے بنديږي يعني د هوا تگ ته لاره نيولے شي او بيا پرانستلې شي۔ د خولې، تالو يا پوزې لاره بنده شي او بيا زور سره چې کوم غږ راوځي تم يا بندشي وئيلے شي۔ دا بندېز د لږ وخت د پاره وي او ډېر زر هوا په زور سره دننه يا بهر تلې راتلې شي۔(١٨)
په دې کښې د حرکت کوؤنکي (Active) او بې حرکته (passive) اندامونو په يو ځاے کېدو سره مکمل بندېز پېدا کيږي، دغسې نرم تالو هم لاندې اړخ ته خور شي او د پوزې لاره هم بنده کړي۔ بيا حرکت کوونکي اندامونه د بې حرکته اندامونو نه جدا شي او غږ پېدا کړي۔ د دې مثالونه ب، پ، ت، ټ، ج، د، ټ، ډ، ک، گ، وغيره۔

د بندشي اوازونو هم دوه قسمونه دي يو هغه غږ چې د هغې (ه) غږ پکښې هم شامل شي نو دې ته بيا (aspirate stop ) وائي۔ ړۀ، بۀ، تۀ، کۀ وغيره او نور۔ او بل قسم ئې ساده بند اواز دے۔

## پوزیز، انفي :(Nasal)

انفي هغه غږونه دي چې د کومو د ادا کولو په وخت چې خولهٔ په مکمله توګه بندیږي او هوا د پوزې د لارې بهر راوځي. کله چې هوا ته د خولې لاره بنده شي نو بیا د پوزې د لارې بهر اوځي په داسې حالت کښې خالص پوزیز یا انفي غږ پیدا کیږي.

> "A Nasal is produced by stricture of complete oral closer. The soft palate is lowered and the air passes through the nose. All Nasal sounds are voiced." (۱۹)

انفي اوازونو کښې خولهٔ بېخي بنده وي. نرم تالو ښکته وي او هوا د پوزې په لاره تېریږي. ټول انفي غږونه اواز لرونکي وي. د داسې قسم غږونو د ادائېګۍ په وخت نرم تالو لاندې اړخ ته حرکت کوي د هوا لاره بند وي او بیا دغه هوا د پوزې په لاره حرکت کوي. په دې وخت کښې د غږیز تارونه (Vocal cards) رپېږي او غږن اواز پیدا کوي. په دې قسمه غږونو کښې / م/ن/ او/ڼ/ شامل دي.
/م/ شونډیز دے په دې کښې دواړه شونډې یو بل سره او د هوا بندیز پیدا کوي. د /ڼ/ د غږ په ادا کولو کښې د شونډې سر د غاښونو وېخ سره اولګي هوا ته د خولې لاره اونیسي او د نرم تالو د حرکت په وجه د پوزې په لاره ووځي. دې ته انفي اوریز غږ هم وائي د /ڼ/ په غږ کښې د ژبې آخري حصه د تالو په مدد هوا ته لاره نیسي او د پوزې په لاره خارج شي. دې ته انفي تالویز غږیز (Voice alveolar nasal)هم وئیلے شي.

## مښلي، احتکاکي، صفیري :- (Fricatives)

په دې قسمه غږونو کښې د ساه لاره په داسې انداز نیولے شي چې په ګرانه او زور سره راوځي، په دغه وخت کښې چې کوم غږ پیدا کیږي نو د شپېلي غوندې غږ ترې محسوسیږي نو ځکه ورته صفیري یعني د شپیلي غږ هم وئیلے شي.
د ډیوډ کرسټل مطابق په دې کښې شونډې ډېرې کلکې بندې نهٔ وي نو تر منځه ئې د شپیلي په څېر غږ پیدا کیږي. په دې غږ د مخرجونو سره مرلے شي نو ځکه ورته احتکاکي (Fricative) وائي. ۲۰ په دې قسمه غږونو کښې /س/، /ش/ او /ن/ شامل دي. محمود مرهون /ږ/ او /ښ/ هم په دې کښې شاملوي. (۲۱)

ډاکټر طارق رحمان خلقي (Glottal) /ح/ او /غ/ هم په دې قسم کښې شمېر کړي دي. په خلقي غږونو کښې د خلق د ژورتیا نه په زور یا مرلو سره غږ پیدا کیږي او غږیز تارونه (Vocal cards) رپوي۔(۲۲)

په دې غږونو کښې د هوا لاره په مکمل طور بندېږي او په معمولي يا د زور سره هوا بهر وتلے شي۔ په دې کښې د غږونو حرکت کونکي انداമونه د بې حرکته اندامونو سره په داسې طريقه نزدې کېږي چې د هوا د پاره ډېر معمولي او نرۍ لاره وي۔ د دې مثالونه دا دي۔

خ، ژ، س، ش، ف، غ او نور

## تم مښلي :- (Affricates')

دا قسم غږونه د بندشي (Stops) او مښلو يا اختکالي (Fricative) دواړه خاصيتونه لري۔ د دې د غږونو په وخت که هوا هر څومره بندولے شي خو په مزه مزه ويستلې هم شي۔

## ارتعاشي، رپندي :- (Trill)

د غږ د ادا کولو په وخت که چرې حرکت کونکي اندامونه (Active Articulator) د بې حرکته اندامونو (Passive Articulators) سره څو واره يا بيا بيا جنګېږي نو په خوزنده اندامونو کښې رپېدل پېدا کوي او د دغې رپېدلو په وجه ورته رپېدونکي غږونه (Trill) وائي کۀ خوزنده يو ځل د بې حرکته اندام سره اولګي نو بيا ورته پړک (Flap) وائي۔

"ہوا کے گزرنے سے اگر منہ کا کوئی اندرونی لچک دار حصہ مرتعش ہوا ٹھے تو ارتعاشی (Trill) آواز پیدا ہوتی ہے۔ ارتعاش کی یہ کیفیت اگر نہایت مختصر ہے اور ہوا کے گزرنے سے صرف ایک ہی تھپک پیدا ہو تو اسے تھپک دار Flap آواز کہتے ہیں۔" (۲۳)

يو ځل تپ سره غږ ادا شي نو Flap او که بيا بيا رپېدلو په وجه پېدا شي نو رپېدونکي يا ارتعاشي Trill غږ وي۔ په دې کښې خوزيدونکي اندامونه د ډېر لږ وخت د پاره يو بل سره لګي او ايساريږي نه۔

" دا هغه اوازونه دي چې د ادا کولو په وخت ئې د ژبې اړخونه په تالو پورې اومرلے شي او د ژبې څوکه پرله پسې تالو او اورو سره جختيږي، دې اوازونو ته رپېدونکي اوازونه وائي۔" (۲۴)

کله چې د غږ د پېدا کېدلو په وخت په غږيزو اندامونو کښې ارتعاش يا رپېدل پېدا شي نو دې ته ارتعاشي او کۀ غږ داسې حالت کښې پېدا شي چې خوزېدونکي اندام د بې حرکته سره د يو ډغرې سره تېر شي نو د يو ډب يا ټپ دغې کيفيت ته ډب، تپ Flap وئيلے شي۔ (۲۵)

ر، ړ، د دې مثالونه دي

## اړخيز، طرفيه :- (Lateral)

دې قسم غږ ته اردو کناري او پهلوي هم وئيلے شي ـ په دې قسمه غږونو کښې د خولې مينځ بندوی او غږ د ژبې يو اړخ يا داړو اړخونو ته ادد ا مولے شي ـ اشرف علی تهانوي ليکي ـ

*انحراف (ہٹنا): جن حروف میں یہ صفت پائی جاتی ہے انکو منحرفہ کہتے ہیں اور وہ دو حروف ہیں ''لام'' اور ''را'' مطلب اس صفت کا یہ ہے کہ ان کے ادا کے وقت ''لام'' میں تو زبان کے کنارہ کی طرف اور ''را'' میں کچھ زبان کی پشت اور کچھ ''لام'' کے موقع کی طرف میلان پایا جاتا ہے۔"(۲۶)*

په دې غږونو کښې د ژبې څوکه غاښونه سره لګي او د ژبې دواړه اړخونه هوا دپاره خالي وي او هوا پرې اوځي ـ مجاور احمد زيار ليکي ـ

" کله چې د ژبې يوه برخه له يوۀ زيږځي سره داسې ولګي چې د ګړهار بهنځ يو اځې په مينځ کښې وتړي، مګر د خولې يوه خوا (وښکي) يا دوې خواوې ببرته پرېږده، اړخيز ډول پېدا کېږي ـ"(۲۷)

مطلب دا چې دې قسمه غږ کښې منځنۍ لاره د هوا د پاره بنده وي خو د ژبې يو اړخ ته يا دواړو اړخونو ته د هوا دپاره بنديز نۀ وي او هوا پرې تېرولے شي ـ

د دې قسمه غږونو مثالونه / ل/ او / ر/ دي خو قاري جمشېد علي، اصول التجويز کښې ل، ن، ر درې واړه په دې قسم کښې شمېرلي دي ـ(۲۸)اظهار احمد تهانوي هم دغه درې واړه اړخيز يا طرفيه بللي دي ـ(۲۹)

## معکوس يا ژب اوړيز :- Retroflex

په دې قسمه غږونو کښې د ژبې څوکه د تالو يا بره اړخ ته تاوېږي ـ په دې د ادائيګۍ مقام کښې بدلون نۀ وي خو د ادائيګۍ طريقه بدله وي ـ د ژبې څوکه اوچتېږي او شا اړخ ته تاوېږي ـ

ډ، ټ، ړ، ښ، ړ او ڼ ئې مثالونه دي ـ

دغه ذکر شوي ټول قسمونه بې واک (Consonant) غږونه جوړوي ـ چې يوه نمونه ئې په دې نقشه کښې وړاندې کېږي ـ

## جدول

| قسم | طريقه | مثال |
|---|---|---|
| بند شي (Stops) | د هوا لاره مکمل بنده وي | ب، پ، ټ، د، ډ ک، ګ |
| مښلي، احتکاکي Fricative | د هوا دپاره معمولي يا نرۍ لاره | س، ش، ز، ح، غ، ږ، ښ |
| پوزيز، انفي Nasal | هوا ته د خولې لاره مکمله بندولې او په پوزه ووځي | م، ن، ڼ |

| | | |
|---|---|---|
| ارتعاشي یا رپندي Trill | خو زیدونکي اندامونه د بې حرکته سره بیا بیا جنګېږي او رپېدل پېدا کوي | ر، ړ |
| اړخیز یا طرفیه Lateral | د خولې مینځ بندوي او هوا د ژبې اړخونه بهر ووځي | ل، ن، ر |
| معکوس، اړخیز Retroflex | د ژبې څوکه بره تالو اړخ ته تاوېږي | ړ، ڼ |

د بې واک یا اصلي غږونو د پېژندګلو دپاره درې طریقې استعمالېږي.

1. اواز لرونکے دے که بې اواز (Voiced, Unvoiced)
2. د مخرج یعني د ادائیګۍ د مقام په ذریعه (Place of Articulation)
3. د ادائیګۍ د طریقې په ذریعه Manner of Articulation

د مثال په توګه /ب/ شونډېز بند شي او غږ لرونکے اواز دے. دغسې /پ/ هم شونډېز، بند شي خو بې غږ (Unvoiced) دے. دغسې / ر/ ژب تالویز، رپېدونکے Trill غږ لرونکے (Voiced)دے.

## حوالې:


1. رښتين صديق الله، پوهاند ، پښتو ګرامر، پېښور، يونيورسټي بک اېجنسي، ۲۰۱۴ء، مخ ۲۴
2. شاکر، نور احمد ، پوهندوے، ژبنۍ څېړنې، ۱۳۵۰ ، مخ ۱۳
3. خويشکي، محمد صابر، پوهنوال، پښتو غږ پوهنه او ويي پوهنه، جرمني، د افغان کلتوري ټولنه، ۲۰۰۵ء، مخ ۱۳
4. خليل صديقي،اواز شناسی،لاهور،بيکن بکس،۲۰۱۵ء، ص ۳۲
5. سهيل بخاري،ڈاکٹر،اردو زبان کا صوتی نظام او تقابلی مطالعه،اسلام آباد، مقتدره قومی زبان،۱۹۹۱ء، ص ۱۳
6. کمال، محمد اشرف،ڈاکٹر،لسانيات اور زبان کی تشکيل، فيصل آباد،مثال پبلشرز،۲۰۱۵ء، ص ۱۴۴
7. زيار مجاور احمد ، دکتور، پوهاند ، پښتو پويه، کابل دانش خپرندويه ټولنه، ۲۰۰۵ء،مخ ۲۸
8. محمد ګل، مومند ، د پښتو ژبې لياره، پېښور، د صافي پښتو څېړنې او پراښتيا مرکز، ۱۳۸۳ ، مخ ۳
9. گيان چند جين،پروفيسر،عام لسانيات،لاهور، بک ټاک،۲۰۱۸ء، ص ۸۰
10. عبدالقادر سردر، ژبه او ژبپوهنه، ژباړن ډاکټر نصرالله جان وزير، پېښور، پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي، ۲۰۱۸ء، مخ ۵۸
11. پالوال، عبدالرازق، ډاکټر، معياري پښتو، شال جرمني، مخ ۹
12. جمشيد علي، قاري، مولانا ، اصول التجويد حصه دوم، ديوبند ، مکتبه رشيديه، ص ۲
13. افريدي، عبدالحميد ، تسهيل القرآن فی حل جمال القرآن، نسته چارسده، ۲۰۱۸ء، مخ ۳۱
14. تقويم الحق، پروفېسر، ډاکټر، راج ولي شاه خټک، پښتو ليک لارے، پېښور، پښتو اکېډيمي، پېښور يونيورسټي، ۲۰۱۱ء، مخ ۲۵
15. هربرټ پنزل، د پښتو ګرامر، ژباړن، محمد رحيم الهام، کابل، د ادبياتو يو منځ، ۲۰۱۰ء، مخ ۴۸
16. خليل، صديقي، زبان کيا هے، ملتان، بيکن بکس، ص ۴۵
17. Radhely, varshney, Dr. Linguistics and phonetics, Lahore, Famous product, 2014, p 87

18. طارق رحمان، ڈاکٹر، لسانیات ایک تعارف، مترجم اصغر بشیر، کراچي، سٹی بک پوائنٹ، ۲۰۱۷ء، ص ۴۰

*19. Linguistics & phonetics. P.51*

20. ڈیوڈ کرسٹل، لسانیات کیا ہے، مترجم ڈاکٹر نصیر احمد خان، لاہور، عبداللہ اکیڈمی، 2017، ص650

21. محمود مرهون، پوهیالے، اواز پوهنه، افغانستان، **۱۳۹۴** مخ، **۷۵**

22. طارق رحمان، ڈاکٹر، لسانیات ایک تعارف، مترجم اصغر بشیر، کراچی سٹی بک پوائنٹ، 2017، ص، 49

23. نارنگ، گوپی چندر، ڈاکٹر، اردو کی تعلیم کے لسانی پہلو، دہلی، آزاد کتب گھر، 1961، ص15

24. بشره اکرام، ډاکټر، ژبپوهنه، پېښور، اکېډېمي پېښور یونیورسټي، ۲۰۱۸، مخ، **۲۲۲**

25. اختر اعوان، الٰہی بخش، ڈاکٹر، ہندکو صوتیات، پشاور، گندھارہ ہندکو بورڈ 2004، ص53

26. تھانوی، اشرف علی، مولانا، جمال القران، پشاور، بیت العلم، س، ن، ص، 15

27. زیار، مجاوراحمد، دوکتور، پښتو، پښویه، کابل، دانش خپرندونه ټولنه، **۲۰۰۵**، مخ، **۵۱**

28. جمشید علي، قاري، مولانا، اصولا لتجوید، اترپردیش، مکتبہ رشیدیہ دیوبند، سن، ص ۱۰

29. تھانوي، اظہار احمد، خلاصہ التجوید، لاہور، قرأت اکیڈمی، ۱۳۹۸ھ، ص ۱۲